دکامیابی لاری

ابو حمزه المهاجر-رحمه الله

مكتبة الهمّة
همت کتابتون

د پښتو ژبې چاپ

جمادی الآخرة 1438هـ

د اصلي غربيز توکي ادرس او د چاپ کال

ربيع الآخر 1429هـ

ژباړه

همت کتابتون

فهرس

سریزه	6
د توحید عقیده	10
یو والی او اتحاد	14
د الله تعالی اوامر اوریدل او منل	18
زغم او ثابت قدمي	24
تیاری کول	33
الله تعالی ته سر ټیټول او عاجزي کول	43
د الله تعالی ذکر کول	45
دعاء	47

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

﴿وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ * إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِينَ *بَلَى إِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ * وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُمْ بِهِ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ﴾[آل عمران: ١٢٣-١٢٦].

او یقینا الله تعالی تاسو سره د بدر په ورځ مرسته کړې وه او تاسو کمزوري وئ نو د الله تعالی نه وېرېږئ ترڅو شکر اداء کړئ * کله چې تا مؤمنانو ته ویل: آیا ستاسو لپاره کافي نه ده چې ستاسو رب درسره په درې زره ملایکو مرسته وکړي، چې رالیږل شوې وي له اسمانه، هوکې!(دغه مرسته ستاسو لپاره بس ده) خو(بل زیرې دادی) که تاسو صبر وکړ او د الله تعالی نه مو وېره کولای، او دا مشرکین تاسو ته په سرعت سره فورا راغلل نو ستاسو رب به ستاسو سره په پنځه زره ملائکو مرسته وکړي چې هغوی به خاص نښې لري او دغه مرسته نه ده مګر ستاسو لپاره یو زیرې دی، په دې خاطر چې ستاسو زړونه پرې آرام شي، او نه ده کامیابي مګر د الله تعالی له طرفه ده چې غالب او حکمتونو والا دی.

الحمد لله رب العزّة ربّ العالمين، وليّ النّصرة لهذا الدين لا إله إلا هو ينصر الحقّ ولو بعد حين والصلاة والسلام على إمام المرسلين ورضي الله عن أصحابه من الأنصار والمهاجرين، وبعد:

الله تعالی فرمايي: ﴿يُرِيدُونَ أَن يُطْفِؤُواْ نُورَ اللّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللّهُ إِلاَّ أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ * هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾[التوبه: ۳۲-۳۳].

دوی غواړي د الله تعالی نور (رڼا) په خپلو خولو مړ کړي، او الله تعالی نه خوښوي مګر دا چې خپل نور پوره کړي(او هرځای کې يې خپور کړي) اګر که کافر يې نه خوښوي، الله تعالی هغه ذات دی چې خپل رسول يې په هدايت او حق دين راولېږه چې په ټولو دينونو يې غالبه کړي اګر که مشرکين يې نه خوښوي.

نو بايد هر مومن په دې يقين وکړي چې پوره کاميابي راتلونکې ده، الله تعالی دې دين ته عزت ورکوونکی دی، مستقبل د دې دين دی- اګر که ټول ملتونه پر موږ راغونډ شوي دي - په ټوله زمکه به خامخا د الله په قوت او اراده د مسلمانانو واکمني راځي، که چا په کې شک وکړ يا يې نيوکه وکړه نو هغه به له مرجفينو(د غلطو اوازو او وېرې له خپرونکو) او کفارو څخه وي.
الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ *إِنَّ فِي هَذَا لَبَلاغاً لِقَوْمٍ عَابِدِينَ﴾.[انبياء: ۱۰۵-۱۰۶].

يقينا موږ په زبور کې د لوح محفوظ نه وروسته ليکلي و، چې زمکه به زما نيکان بندګان په ميراث کې وړي، او په دې کې پوره وعظ او عبرت دی د عبادت کوونکو بندګانو لپاره.

الصّادقُ الأمين صلّى الله عليه وسلّم فرمايي:(لَيَبْلُغَنَّ هَذَا الْأَمْرُ مَا بَلَغَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَلَا يَتْرُكُ اللَّهُ بَيْتَ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ هَذَا الدِّينَ بِعِزِّ عَزِيزٍ أَوْ بِذُلِّ ذَلِيلٍ عِزًّا يُعِزُّ اللَّهُ بِهِ الْإِسْلَامَ وَذُلًّا يُذِلُّ اللَّهُ بِهِ الْكُفْرَ)[رواه احمد والطبراني والحاكم].

خامخا به دا دین هغو ځایونو ته رسېږي چې شپه او ورځ ورته رسېدلې وي، او هېڅ یو کور او کوډۍ به پاتې نه شي مګر الله تعالی به ورته دا دین داخل کړي، د عزتمن په عزت او د ذلیل په ذلت، داسې عزت چې الله تعالی یې اسلام ته وربښي، او داسې ذلت چې الله تعالی پرې کفر ذلیله کوي.

تمیم الداري - رضي الله عنه - به ویل لکه چې په مسند احمد کې روایت دی:(ما دغه عزت او ذلت په خپله کورنۍ کې ولیده؛ چاچې په کې اسلام راوړ هغوی ته ډېر خیر، عزت او مشري په نصیب شوه او څوک چې په کفر پاتې شول هغوی ته ذلت، خواري او جزیه ورکول پرې مسلط شو).

باید موحدین په دې خبره پوه شي چې هغه عقیده د کومې په خاطر چې پاکې وینې توی شوي دي، شهیدانو پرې جنګونه کړي او د دې عقیدې لپاره یې ژوند او مرګ اختیار کړی؛ همدغه عقیده به خامخا کامیابېږي او غشي به یې دومره لرې ولاړ شي چې د هر کافر ښت به ووهي او د هر موحد زړه به روښانه کړي، لیکن باید دې خبرې ته مو هم فکر وي چې نصرت او کامیابي د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - د تابعدارۍ سره تړاو لري او د نافرمانۍ په صورت کې نصرت له منځه ځي، نو باید داسې سبب موجود نه شي چې دواړه سره په ټکر کې راشي، لکه چې ابن قیم - رحمه الله- وایې:(او همداشان پوره کامیابي او د الله تعالی له پلوه د پوره ایمان خاوندانو لپاره پوره تایید دی، الله تعالی فرمایې: ﴿إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ﴾)[غافر:٥١].

یقینا موږ د خپلو پیغمبرانو او مؤمنانو سره مرسته کوو، هم د دنیا په ژوند او هم په هغه ورځ چې ګواهان ودرېږي. بل ځای فرمایې:﴿فَأَيَّدْنَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَى عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا ظَاهِرِينَ﴾[الصف:١٤].

نو موږ پیاوړي کړل هغه کسان چې مؤمنان وو پر خپلو دښمنانو، نو دوی بریمن وګرځېدل.

نو که د چا ایمان څومره کمزوری و، د الله تعالی تایید او مرسته به ورسره هم په دغه پرتله کمه وي.

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - موږ ته په پوره توګه د کامیابۍ اسباب راښودلي دي او هم یې راته هغه څه راښودلي چې کامیابي په وروسته کوي، ابن القیم - رحمه الله - وایي:(په همدې توګه رسول الله- صلی الله علیه وسلم- مؤمنانو ته د جنګ تکتیکونه، د دښمن سره د مخامخ کېدو ترتیب او د کامیابۍ او بریالیتوب پوره لار ښوونې ښودلي دي، که په هغې څوک پوه شي او هغې ته پوره پاملرنه وکړي نو هیڅ دښمن به یې مخې ته هیڅکله ټینګ نه شي).

د کامیابۍ لومړۍ لاره: د توحید عقیده

الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّى يَرُدُّوكُمْ عَنْ دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا﴾[التوبه: ۲۱۷].

او دوی به همېشه ستاسو پر خلاف جنګ کوي، ترڅو چې که وتوانېږي نو تاسو به له خپل دین څخه واړوي.

بل ځای فرمايي: ﴿وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾[البروج: ۸].

او دې کفارو په مؤمنانو کې يوازې دا بده ګڼله چې دوی په الله ایمان راوړی وو، چې غالبه او د ثناء لائق ذات دی. نو بايد مجاهدين په همدغه حقيقت پوه شي، د موحدينو او کافرو په منځ کې جنګ په اصل کې په عقيده جنګ دی، او الله تعالی هم دغه دښمني په دين کې رانغښتې او راګېره کړې ده؛ کافر که په هر دين وي؛ سيکولر(لادينه، علماني) وي، که کمونسټ وي که يهودي يا نصراني وي، هغه د مسلمانانو سره يوازې د هغوی د خالص ايمان له امله دښمني کوي، که له دين پرته زموږ او د هغوی ترمنځ د جنګ لپاره بل هرډول شعار او نوم غوره کړای شو، نو هغه به پرته له دروغواو بهتانونو بل څه نه وي، ځکه د مجاهد سره د اصلي کافر يا مرتد دښمن هېڅکله د اقتصادي او سياسي اغراضو په خاطر جنګ نه وي، بلکې دغه جنګ يوازې د ايمان او کفر جنګ وي، د عقيدې او دين جنګ، ځکه موږ د يرغلګر صليبي يا مرتد عربي سره د کومې خاورې په خاطر نه جنګېږو، بلکې په زمکه د الله تعالی د کلمې د سرلوړۍ لپاره جنګ دی، هغوی هم زموږ سره د بعضې مادي شيانو په سر نه جنګيږي، که خبره د مادياتو وی، نو بيا خو به دښمن او موږ داړو ته اسانه وی چېرته د لارې په کوم منزل کې سره يوځای شوي وای، که څومره اختلاف وی،

لیکن د شیدو کومې ویالې چې زموږ په رګونو او زړونو کې رواني دي موږ نه غواړو چې هېڅکله دې دغه د کفارو د باطل او چټلتیا په سمندر پلیتې شي.

استعمار له پخوا څخه د صلیبیانو ښکاره مخه وه، لکه چې اوس د یهودو او نصاراو دغه حالت دی، بلکې د روم قیصر (بوش) په ډاګه دغه اعلان کړی و چې: (دا صلیبي جنګ دی) نو ولې دا قوم درواغ وایې او خلک درواغژنوي.

کله چې ته په دې خبره پوه شوې نو مجاهده وروره په تا واجب دي چې بیرغونه دربانديې ګډوډ نه شي او نه په طلایې نومونو وغولېږې، دې خبرې ته به دومره پاملرنه کوي لکه ته چې خپل زړه او صف د چټلتیا نه پاک ساتې، ځان وساته چېرته ستا په زړه یا صف کې شرک او مشرک نه وي، او باید په دې هم پوه شې چې زموږ په زړونو کې د شرک او په صفونو کې د مشرک وجود د الله تعالی د نصرت او مرستې د وروسته کېدو لوی لامل دی، بلکې په ډېر تلوار به ماتې راځي، الله تعالی فرمایې: ﴿ وَالظَّالِمُونَ مَا لَهُمْ مِنْ وَلِيٍّ وَلا نَصِيرٍ﴾[شورا:٨].

او ظالمان! نشته د هغوی لپاره کوم دوست او مرسته کوونکی.

بل ځای فرمایې:﴿ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴾[البقره:٢٧٠].

او نشته د ظالمانو لپاره کوم مرستندویان.

او د دې خبرو تفسیر د الله تعالی په دې قول کې دی، چې دلقمان حکیم څخه حکایت کوي:﴿يَا بُنَيَّ لا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾[القمان:١٣].

ای زما بچیه! ته شرک مه کوه ځکه شرک ډېر لوی ظلم دی.

له دې وروسته بیا د نیت اخلاص د نصرت او واکمنۍ یو مهم لامل دی، الله تعالی فرمایې:﴿فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحاً قَرِيباً﴾[الفتح:۱۸].

نو الله تعالی معلوم کړل هغه څه چې د دوی په زړونو کې و، نو په دوی یې آرام رانازل کړ او نږدې فتحه یې ورته ورسوله. یعنې: الله تعالی ته معلومه شوه چې د دوی په زړونو کې ریښتینولي، وفاداري او د نیت اخلاص موجود دی، ځکه دوی د الله رب العالمین سره په مرګ بیعت کړی و.

دا آیت په دې دلیل دی چې اخلاص د واکمنۍ یو شرط دی او چې کله هم په چا کې راشي نو الله تعالی ورته فتح، کامیابي او واکمني ورکوي، الله تعالی فرمایې:﴿فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحاً وَلا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَداً﴾[الكهف: ۱۱۰].

څوک چې د خپل رب سره د مخامخ کېدو امید لري، نو هغه دې نیک عمل کوي او د خپل رب سره دې هېڅوک نه شریکوي.

او رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایې:(تر ټولو زیات چې زه په تاسو له څه وېرېږم هغه کوچنی شرک دی). له دې امله خو رسول الله - صلی الله وسلم - هغه مشر و چې د ترټول خلکو زیات یې د خپلو صحابه کرامو زړونه د دغه آفت څخه پاک ساتل، په ځانګړې توګه په جهاد کې، هغه د جهاد په امیرانو ډېر نظر ساته، فرمایې:(په الله قسم موږ داسې چا ته د دې کار ذمه داري نه سپارو چې هغه یې وغواړي یا پرې حرص کوي).

د ابو سعید عبد الرحمن بن سَمُرة - رضي الله عنه - نه روایت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - هغه ته وفرمایل:(ای عبد الرحمن بن سمره ته

مشري مه غواړه، ځکه که تاته مشري ستا له غوښتنې پرته درکړل شي نو مرسته به درسره په کې وشي او که چېرته ستا په غوښتنه درکړل شي نو بیا به دغې مشرۍ ته همداسې پرېښودل شې).

امام نووي - رحمه الله - وایي:(علماء وایي: دا چې یو تن ته د غوښتنې سره سم مشري نه دي ورکول پکار، دې کې حکمت دا دی چې بیا هغه دې مشرۍ ته سپارل کېږي او د الله تعالی له پلوه ورسره کومه مرسته نه کېږي، لکه چې د عبد الرحمن بن سمره - رضي الله عنه - په مخکني حدیث کې ذکر شول او کله چې ورسره د الله تعالی مرسته نه وي نو هغه بیا د دغه کار لپاره مناسب نه وي او غیر مناسب انسان ته مشري ورکول نه دي پکار).

کله داسې هم کېږي چې یو سړی په جهاد کې سابقه او ښه سیرت هم لري او الله ته معلوم وي چې خیر په کې شته، لیکن د امارت او مشرۍ لائق نه وي، اګره که هغه په ځان ګمان کوي چې زه یې ترسره کولی شم، لکه د ابو ذر -رضي الله عنه - په حدیث کې دي، وایي:(ما رسول الله - صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله رسوله ما ولې په یو ځای نه مقرروې؟ نو هغه زما په اوګه لاس کېښود وېې فرمایل:(ای ابو ذره ته کمزوری یې او دا امانت دی او د قیامت په ورځ شرم او پښېماني ده).

لیکن کله ناکله داسې وخت هم راځي چې غوره او بهترو خلکو ته د مشرۍ اخیستل واجب شي- کله چې هغوی وګوري چې ویني تویېږي او مالونه غلا کېږي او هغه دا توان لري چې د دغې مخنیوی وکړي - ځکه خو یوسف - علیه السلام - چې عزتمن او د عزتمن ځوی دی وویل: ﴿اجْعَلْنِي عَلَى خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ﴾[یوسف:۵۵].

ما د ځمکې په خزانو مقرر کړه زه ښه ساتونکی او پوه یم.

د کامیابۍ دویمه لاره: یو والی (وحدت)

الله تعالی فرمايي: ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعاً وَلا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَاناً﴾ [يوسف:١٠٣].

او تاسې ټول د الله تعالی په رسۍ منګولې ولګوئ او خواره واره کېږئ مه او د الله تعالی هغه نعمتونه را یاد کړئ چې په تاسو یې کړي و، کله چې تاسو په خپل منځ کې دښمنان وئ نو الله تعالی ستاسو په زړونو کې الفت پیدا کړ، نو تاسو د الله تعالی په نعمت سره ورونه ورونه شوئ.

عبد الله بن مسعود - رضي الله عنه - وايي: (ای خلکو تاسو د امیر خبره ومنئ او د مسلمانانو په جماعت کې و اوسېږئ، ځکه دا د الله تعالی هغه پوله ده چې امر یې پرې کړی، تاسو چې په اطاعت او د مسلمانانو په جماعت کې کوم څه نه خوښوئ، هغه د هغه څه نه بهتر دي چې تاسو یې په جداوالي کې خوښ بولئ).

ولې به داسې نه وي او د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - نه په مسند احمد کې ثابت دي چې هغه فرمایلي دي: (ثلاث خصال لا يغل عليهن قلب مسلم، إخلاص العمل لله ومناصحة ولاة الأمور)، وفي رواية: (وطاعة ذوي الأمر ولزوم الجماعة فإن دعوتهم تحيط من ورائهم).

درې شیان داسې دي چې د هغه په وجود سره د مسلمان په زړه کې د یو بل سره کینه او خفګان نه پاتې کېږي: الله تعالی ته په عمل کې اخلاص کول، او د مشرانو لپاره خیر خواهي، په بل روایت کې ورسره داسې هم دي: او د اولو الامر (مشرانو) خبره منل او د مسلمانانو په ټولي- خلافت - کې اوسېدل، ځکه د مسلمانانو دعاء د هغوی چاپېره ساتنه کوي.

ابن القیم رحمه الله وايي:(څوک چې خپل ټول عمل الله تعالی ته خالص کړي، په خپلو ټولو کارونو کې د الله د بندګانو لپاره خير خواهي ولټوي او د مسلمانانو د جماعت- خلافت - سره يوځای و اوسېږي، اختلاف اختيار نه کړي او زړه يې پاک صفا شي نو دا د الله تعالی ولي شي او څوک چې د دې پر خلاف وي نو د هغه زړه د هر آفت او شر څخه ډک وي).

نو هغه اصل او بنيادي خبره چې بايد مسلمانان پرې عمل وکړي هغه وحدت دی، نه خواره واره کېدل، د الله تعالی په رسۍ منګولې لګول دي، نه ځانله والی او اختلاف، کله چې دغه شان د پاک زړه والا خلک را يو شي او ټولنه جوړه شي نو په دنيا کې عزت او واکمني ترلاسه شي او په آخرت کې يې درجې لوړې شي او مخونه يې سپين شي، لکه چې عبدالله بن عباس - رضي الله عنهما - د دغه آيت په تفسير کې وايي: ﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ﴾؛ د اهل السنت والجماعت مخونه به سپين وي او د بدعتيانو او ډله بازۍ والاو مخونه به تور وي.

کله چې اختلاف او تفرق وي نو هېڅکله به واک او کاميابي ترلاسه نه شي، اګر که په دې دنيا کې تر ټولو غوره او بهادر انسان وي، ته وګوره علي ابن ابي طالب – رضی الله عنه - کله چې هغه خليفه شو، نو د دنيا په ژونديو انسانانو کې تر ټولو غوره او بهادر انسان و، ليکن کله چې امت اختلاف وکړ، يوه ډله باغيانو يې پر خلاف پاڅون وکړ او بيا خوارجو پاڅون وکړ - الله دې دوی تباه کړي - نو علي - رضي الله عنه - په دې ونه توانېده چې د کفارو پر خلاف يو لښکر هم تيار کړي.

شيخ الاسلام ابن تيميه - رحمه الله - په روافضو په اثناعشريه (دولسو امامانو) د خبرو په ترڅ کې وايي:(په دغو ټولو کې د توري خاوند يواځې علي بن ابي طالب - رضي الله عنه - و ليکن د دې باوجود هغه په خپل خلافت کې په دې

ونه توانېده چې د کفارو پر خلاف غزا وکړي، یا کوم ښار فتح کړي او یا کوم کافر ووژني، بلکې مسلمانان په یو بل مسلط شول، تردې چې د ختیځ او لویدیځ کفارو - اهل کتاب او مشرکینو - یې په وهلو کې طمع پیدا کړه، بلکې دا هم ویل شوي چې کفارو د مسلمانانو بعضې خاورې هم نیولې وې).

د جمل جنګ د تفرق او اختلاف ترټولو دردونکی مثال دی، لیکن بالعکس چې کله د وحدت کال(عام الجماعة) راغی او امت په معاویه - رضي الله عنه - راټول شو، نو هغه بیا لښکرې ولېږلې، هیوادونه یې فتح کړل، زکات یې راغونډ کړ او مالونه یې خلکو ته ورکړل.

په دې کې د هېڅ مسلمان اختلاف نشته چې علي - رضي الله عنه - د معاویه - رضي الله عنه - څخه ډېر تقوا دار او بهادر و، لیکن اختلافات او تفرق ټول شر دی، رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایي: (من خرج من الطّاعة وفارق الجماعة فمات؛ مات ميتةً جاهلية، ومن قاتل تحت راية عميّة يغضب لعصبة أو يدعو إلى عصبة فقتل، فقتلة جاهلية). وقال:(من رأى من أميره شيئاً فكرهه فليصبر فإنّه ليس أحد يفارق الجماعة شبراً فيموت إلا مات ميتة جاهلية) [صحيح مسلم].

څوک چې د امیر د اطاعت (خبرې منلو) نه بهر او د مسلمانانو له ټولي جدا شو او بیا په دې حالت کې مړ شو، نو د جاهلیت په مرګ مړ دی او څوک چې د ړانده بیرغ لاندې وجنګیده چې د عصبیت - وطنپالنې قوم پالنې...- لپاره غوسه کېده او یایې تعصب ته دعوت ورکولو او په دې حالت کې ووژل شو نو د جاهلیت په مرګ مړ دی. په بل روایت کې دي: چا چې د خپل امیر څخه څه بد ولیدل نو صبر دې پرې وکړي، ځکه هېڅوک داسې نشته چې د مسلمانانو د ټولي- خلافت - نه یوه ولیشت جدا شي او مړ شو، نو د جاهلیت په مرګ مړ شو.

د الله په فضل سره ترڅو چې زمونږ زړونه په یو داسې امیر راجمع وي چې مونږ پرې نیک ګمان لرو او د هغه څخه د تهمتونو او شک دفاع کوو، نو په الله قسم چې امریکا خپل ټول پوځ راولي بلکې خپل ټول سړي او ښځې زمونږ د جنګ لپاره راولي نو مونږ کامیاب یو، مجاهدینو ته وایو چې: ای د الله تعالی لښکره د هر هغه چا لاس ونیسئ چې د ستاسو صف جدا کول غواړي

د کامیابۍ دریمه لاره: د الله تعالی اوامر اوریدل او منل

الله تعالیٰ فرمايي: ﴿وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَاقَهُ الَّذِي وَاثَقَكُمْ بِهِ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾[المائده: ۷]، ترجمه: او تاسو د الله تعالی هغه نعمت او مضبوطه وعده را یاده کړئ چې تاسو پرې تړون کړی و، کله چې تاسو وویل: مونږ خبره اورو او منو.

د عبادة بن الصامت رضي الله عنه څخه روایت دی، وايي:(بايعنا النّبيّ صلّى الله عليه وسلّم على السّمع والطاعة في منشطنا ومكرهنا وعسرنا ويسرنا وأثرةٍ علينا وألا ننازع الأمر أهله إلا أن تروا كفراً بواحا عندكم من الله فيه برها)، وفي رواية:(على السمع والطاعة في النشاط والكسل)، ژباړه: مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بیعت کړی و چې خبره به اورو او منو، که خوښ یو که نا خوښه، که اساني وي که سختي او که امیر خپل ځان پر مونږ په څه شي غوره هم کړ، مونږ به د مشرتابه سره شخړې او پر خلاف به یې پاځون نه کوو، مګر هغه وخت چې ښکاره کفر پکې وګورو او د الله تعالی لخوا پکې واضحه قوي دلیل موجود وي.

په یو بل روایت کې دي: مونږ په خبره اوریدلو او منلو بیعت کړی و که د فعالیت او نشاط وخت وي او که نا راستۍ او کسالت.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:(اسمعوا وأطيعوا ولو اسْتُعمل عليكم عبدٌ يقودكم بكتاب الله)، ژباړه: تاسو خبره اورئ او منئ؛ اګر که په تاسو یو غلام مشر شي او ستاسو مشري د الله په کتاب کوي.

حافظ ابن حجر رحمه الله د دې باب په حدیثونو کې وايي:(دلته د امیر په اطاعت او خبره منلو امر شوی، اګر که خلیفه نه وي).

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:(وأنا آمركم بخمسٍ الله أمرني بهنّ: الجماعةُ، والسمع والطاعة، والهجرة و الجهاد). ژباړه: او زه تاسو ته پنځه کارونو امر کوم چې الله تعالی پرې ماته امر کړی: په خلافت یو موټی کیدل، خبره اوریدل او منل او هجرت او جهاد.

دلته چې زه څه غواړم او په هغې تاکید کوم؛ هغه د سختۍ او ناخوښۍ په وخت کې خبره منل، اوریدل او د الله په احکامو عمل کول دي، ځکه په هغه کارونو کې چې انسان ورسره مینه لري، تابعداري او خبره منل-د الله په توفیق سره- اسان دي.

تر ټولو زیات چې مونږ ترې ملګري ژغورل غواړو هغه د جنګ په حالت کې د امیر نافرماني کول دي، ځکه مونږ په خپل اسلامي تاریخ کې د نافرمانۍ له امله ډیر دردونه لیدلي دي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زماني څخه به یې را واخلو؛ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپلو صحابه کرامو رضي الله عنه اجمعین سره د احد میدان ته ورسیده او د خپل لښکر هر فرد ته یې خپل د جنګ ساحه محدوده کړه، او یو شمیر غشي ویشتونکي یې په داسې ځای مقرر کړل چې د مسلمانانو شاګانې د هرډول راتاویدو څخه وساتي او که څوک په دغه لاره پرمختګ کوي نو باید مخه یې ونیسي، هغوی ته یې په ډاکه او ښه په وضاحت سره وویل:(احموا ظهورنا فإن رأيتمونا نُقتل فلا تنصرونا وإن رأيتمونا قد غنمنا فلا تشركونا) ژباړه: تاسو زمونږ شاګانې وساتئ؛ که مو ولیدل چې مونږ ټول وژل کیږو نو مرستې ته مه راځئ او که مو ولیدو چې غنیمتونه اخلو نو هم راسره مه شریکیږئ.

لیکن د دې واضحه اوامرو باوجود غشي ویشتونکو صحابه کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرو ته په سمه توګه پاملرنه ونکړه، نتیجه دا شوه چې

مسلمانان د شکست او ډیرې لویې مرګ ژوبلې سره مخ شول، د دې ټولو لامل د لښکر د یوې ډلې نافرماني وه، سره لدې چې امیر ورته خبرداری او نصیحت کړی و.

نو دا روایتونه پدې دلالت کوي چې د جنګ په میدان کې د نافرمانۍ سزا په ډیره بیړه ورکول کیږي او د پوځ (مجاهدینو) هر اجتهاد او په خپل سر کار چې د امیر د رایې مخالف وي-اګر که په ظاهر کې خایسته او سم ښکاري- لیکن دا ډیره لویه خطایي او د لوی شر دروازه پرانیستل دي، ځکه یو مجاهد به د خپل امیر خبره منل عبادت ګڼي، ترڅو چې یې په ګناه او شرعي مخالفت امر نه وي کړی.

هر چې د پوځي حرکت په اړه رایه ده نو هغه یواځې د امیر حق دی هیڅوک به یې مخالف نه کوي، مګر د نصیحت وجیبه اداء کولو په خاطر، ځکه قاعده وایي:(د امام او امیر رایه به د مسلمانانو څخه د هیڅ یو تن په انفرادي نظر نشي ماتولی).

ای د الله بنده! ته وګوره چې په سختۍ او غم کې خبره اوریدل او منل څومره برکت لري؛ کله چې ابو سفیان ګواښ وکړ چې د أُحد نه پاتي اسلامي لښکر ختمول غواړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډیرو زخمونو او دردونو باوجود خپل صحابه کرامو ته د تیارۍ امر وکړ، هغوی لبیک ووایه او د الله او رسول خبره یې ومنله نو الله تعالی دغه آیتونه رانازل کړل: ﴿الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيمٌ﴾[آل عمران:۱۷۲], ترجمه: مومنان هغه خلک دي چې د الله او رسول خبره یې ومنله، وروسته له هغې چې دوی ته زخم رسیدلی و، پدوی کې د نیکانو او متقیانو لپاره ډیر لوی اجر دی.

او کتې مټ د همدغه حالت سره دوی یوځل بیا مخامخ شول، چې کله د احزاب له غزا راستانه شول، دوی غوښتل چې د غم د لرې کیدو وروسته لږ ارام وکړي، خوشحاله وو چې الله تعالی ورته د امن نعمت ورکړ، لیکن د خپل ځان څخه یې لا د دغې اوږدې کلابندۍ ګرد نه و څنډلی چې ورته په چټکۍ سره د بلې غزا لپاره د وتلو امر وشو «لاَ يُصَلِّيَنَّ أَحَدٌ الْعَصْرَ إِلَّا فِي بَنِي قُرَيْظَةَ».ژباړه: په تاسو کې یوتن هم باید د مازیګر لمونځ ونه کړي مګر په بني قریظه کې.

نو دوی د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم امر ته لبیک ووایه، او د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم تصدیق یې وکړ، نو الله تعالی ورته د دغه صداقت او خبرې منلو په بدله کې د یهودي دښمن په مقابله کې کامیابي ورکړه.

د ابو هریره رضي الله عنه څخه امام مسلم رحمه الله روایت کوي وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:«مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ، وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَدْ أَطَاعَنِي، وَمَنْ عَصَى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي»، ژباړه: چا چې زما خبره ومنله نو هغه د الله تعالی خبره ومنله او چاچې زما نا فرماني وکړه هغه د الله تعالی نافرماني وکړه او چاچې د خپل امیر خبره ومنله هغه زما خبره ومنله او چاچې د خپل امیر نافرماني وکړه نو هغه زما نافرماني وکړه.

د امیر په خبره اوریدو او منلو یو څو کارونه مرسته کوي، چې په لاندې ډول دي:

لومړی: په امیر ښه ګمان کول

الله تعالیٰ فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ﴾[الحجرات:۱۲]، ترجمه: ای مومنانو تاسو د ډیرو ګمانونو څخه ځان

وساتئ، ځکه بعضې ګمانونه ګناه وي.

هرکله چې په عامو مسلمانانو نیک ګمان واجب دی، نو د امیر په حق کې دغه بیا ډیر واجب دی، په جهاد کې ترټولو خطرناک څیز بدګماني ده، ولې به داسې نه وي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په هکله فرمايي: «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ»، ژباړه: د بدګمانۍ څخه ځان وساتئ ځکه بدګماني ډیره بده خبره ده.

د فیض القدیر مصنف وايي:(چاچې بې ځایه بد ګمانونه کول نو دا پدې دلیل دی چې د دغه انسان نفس کې سمون او استقامت نشته، ځکه پخوا ویل شوي:کله چې د یو سړي عمل خراب شي نو ګمانونه یې هم خرابیږي.

دویم: د امیر قدر او عزت کول

په مسند احمد کې د عبد الله بن عمرو بن العاص نه روایت دی هغه د معاذ نه روایت کوي-رضي الله عنه اجمعین- هغه وايي:«عَهِدَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَمْسٍ مَنْ فَعَلَ مِنْهُنَّ كَانَ ضَامِنًا عَلَى اللَّهِ مَنْ عَادَ مَرِيضًا أَوْ خَرَجَ مَعَ جَنَازَةٍ أَوْ خَرَجَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ دَخَلَ عَلَى إِمَامٍ يُرِيدُ بِذَلِكَ تَعْزِيرَهُ وَتَوْقِيرَهُ أَوْ قَعَدَ فِي بَيْتِهِ فَيَسْلَمُ النَّاسُ مِنْهُ وَيَسْلَمُ »، ژباړه: مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د پنځه شیانو وصیت کړی چاچې دغه کارونه وکړل، نو د هغه لپاره په الله تعالی ضمانت شو(چې جنت ته به یې ننباسي او د جهنم څخه به یې وساتي): چاچې د مریض پوښتنه وکړه، یا د جنازه سره ولاړ، یا په غزا کې ولاړ، یا خپل امام او مشر ته ورغی چې د هغه عزت او قدر کول یې مطلب و او یا په کور کې کیناست چې خلک له ده او دی د خلکو له شر څخه په امن شي.

د امام او امیر قدر د هغه په خبره منلو، مرسته کولو او د هغه د ذاتي او

اخلاقي بهترو صفاتو ذکر کولو کې او هم د هغه خبرې عملي کولو ته منډه کول او په پټه د هغه لپاره خیر خواهي لټولو کې.

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې وايي:(د مسلمانانو د مشرانو لپاره خیر خواهي دا ده چې د هغوی سره د دغه مسئولیت په بارولو کې مرسته وکړی شي؛ هغوی باید د غفلت په وخت کې خبردار کړی شي، چې کله ترې خطايي وشي د هغې کمی پوره کړی شي او خفه زړونه ورته راستانه کړی شي).

د کامیابۍ څلورمه لاره: صبر، زغم او ثابت قدمي

الله تعالیٰ فرمایي:﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾[آل عمران:۲۰۰], ترجمه: اي مؤمنانو صبر وکړئ، په میړانه د دښمن مقابله وکړئ، د اسلام په سنګرونو کې رباط وکړئ او د الله نه ویریږئ ترڅو کامیاب شئ.

ځکه لاره ډیره اوږده ده خامخا باید توخه ولرل شي، دغه سفر سخت او ستړی کونکی هم دی، د پیچومو نه ډکه لاره ده نو صبر او زغم ته ډیره اړتیا لري، بله دا چې جهاد د الله تعالی لخوا پر مونږ یوه فریضه ده چې باید مونږ یې سر ته ورسو، که هرڅومره ملتونه رابانديې راشي، یا باطل را وپړسیږي او یا ملګري او مرستندویان کم شي، نو په هر حال کې به مونږ خپل مزل ته دوام ورکوو.

امام مالک د زید بن اسلم څخه روایت کوي چې ابو عبیدة بن الجراح رضي الله عنه عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته ولیکل چې د کفارو لښکرې ډیرې دي او دا ډول ویره موجود ده، نو عمر رضي الله عنه ورته ولیکل: د سلام نه وروسته: پدې ځان پوه کړه چې په یو مومن بنده هرڅومره سختي راشي نو الله تعالی ورته له هغې وروسته اساني ورکوي، هیڅکله به یوه سختي په دوه اسانیو برلاسې نه شي، او الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾[آل عمران:۲۰۰], ترجمه: اي مؤمنانو صبر وکړئ، په میړانه د دښمن مقابله وکړئ، په اسلامي سنګرونو کې رباط وکړئ او د الله نه ویریږئ ترڅو کامیاب شئ).

الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ﴾[آل البقره:۱۵۵], ترجمه: او مونږ به خامخا

پر تاسو یو څه د ویرې، ولږې او د مالونو، نفسونو او میوو د کمښت ازموینه کوو، او زیری ورکړه صبر کونکو ته.

ابو جعفر الطبري وايي:(پدې آیت کې د الله تعالی لخوا څخه د محمد صلی الله علیه وسلم پرویانو ته خبرداری دی چې پر دوی به د سختو کارونو ازموینې او امتحانونه راځي، ترڅو الله تعالی د مرتد کیدونکو څخه هغه څوک بیل کړي چې د پیغمبر تابعداري کونکي دي).

لیکن د صبر انجام همیشه لپاره ښه وي، الله تعالی فرمایي:﴿وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ﴾[النحل:١٢٦], ترجمه: که چیرته تاسو صبر وکړ، نو دا د صبر کونکو لپاره بهتره ده. نو تاسو هم د الله تعالی نه مرسته وغواړئ او د خپلو مشرانو وینا وکړئ، چې:﴿وَلَمَّا بَرَزُوا لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُوا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْراً وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾[آل البقره:٢٥٠]، ترجمه: کله دوي د جالوت او د هغه د پوځ مخې ته ورغلل نو ویې ویل: ای زمونږ ربه په مونږ صبر راواړوه، زمونږ قدمونه مضبوط کړه او مونږ د کافر قوم پر خلافت مرسته وکړه. همدا ډول په امتحان کې د اچول شویو موحدینو په څیر وینا وکړئ:﴿رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْراً وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ﴾[آل الاعراف:١٢٦]، ژباړه: ای زمونږ ربه په مونږ صبر راواړوه او مونږ د اسلام په حالت کې وفات کړه. نو د دې دعاء وروسته هغوی د نیکان شهیدان شول، وروسته له هغې چې ساحران او کفار وو.

او پدې هم پوه شه، لکه چې څنګ الرسول الامین صلی الله علیه وسلم فرمایلي:(أن الأمّة لو اجتمعت علىٰ أن ينفعوك بشيءٍ لن ينفعوك إلا بشيءٍ قد كتبه الله لك وإن اجتمعوا على أن يضرّوك بشيء لم يضرّوك إلا بشيءٍ قد كتبه الله عليك). وقال: (واعلم أنّ النّصر مع الصبْر وأنّ الفرج مع الكرب وأنّ مع العُسر يُسْرا)، ژباړه: که دغه ټول امت راغونډ شي پدې خاطر چې تاته څه ګټه

ورسوي نو هيڅ څه درته نشي رسولی مګر هغه چې الله تعالی ستا لپاره ليکلي وي، او که چيرته ټول راغونډ شي پدې خاطر چې تاته کوم ضرر ورسوي نو هيڅ ضرر درته نشي رسولی مګر هغه چې الله تعالی په تا ليکلی وي، او کامیابي د صبر سره او پراخي د تکليف سره وي او د سختۍ سره اساني وي.

پدې ځای کې په يوه خبره بايد زور راوړم، کومه چې په تجربه او مطالعه هم ثابته شوې چې ډير لوی اثر او هغه دا ده چې د مشرتابه ثابت قدمه اوسي په ځانګړې توګه د جنګ او دښمن سره د مخامخ کيدو پر مهال، په يو صحيح حديث کې ثابت دي چې يو سړي د براء بن مالک رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه: ای ابو عماره تاسو د حنين په ورځ تښتيدلي وی؟ براء ورته وويل او ما ورته غوږ نيولی وو: هر چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وو نو هغه له مخ د ښمن څخه نه و تښتيدلی، ابو سفيان ابن الحارث د هغه د اوښې مهار نيولی وو، کله چې پرې مشرکين را ډير شول، نو له سپرلۍ کوز شو او ويل يې:(أنا النّبيُّ لا كذب... أنا ابن عبد المطّلب)، زه پيغمبر يم درواغ نده، زه د عبد المطلب ځوی يم.

پدې حديث کې ډيرې فائدې دي چې مونږ ته لاره روښانه کوي:

لومړی: مشرتابه د جنګ او سختۍ په ځمکه وو او د ښتو له ځمکې بل ځای ته پدې بهانه نه وو تښتيدلی چې ګواکې يو زه سمبول يم او که زه مړ شم نو دعوت به له منځه ولاړ شي، پدې اړه مونږ د خپلو ورونو څخه تر ټولو کمه غوښتنه دا کوو چې بايد دولايت امير په ولايت کې دننه وا اوسي او د يوې سيمې امير بايد په هماغه سيمه کې وي.

وأمير الكتيبة أو السرية بين جنوده، و أيّما رجل لا يستطيع أن يفعل ذلك لا تحلّ له الإمارة ولو كان أهلا لها .فالأسود لا تصطاد خارج الغابة إلا أن تقتات على كسب غيرها.

دویمه فائده: د راوي دا وینا چې(ابو سفیان بن الحارث د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوښې مهار نیولی وو)، پدې کې دا فائده چې باید په امیر باندې د زغم او ثابت قدمۍ اثار معلوم شي، ته وګوره رسول الله صلی الله علیه وسلم پدې سخت وخت او ځای کې په خپله اوښه سپور دی چې عادة په مزل کې ډیره کمزورې وي.

ابن کثیر رحمه الله وايي:(پدې روایت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم انتهايي زیات شجاعت او بهادرۍ ته اشاره ده، ځکه هغه په داسې وخت کې چې سخت جنګ روان دی، ملګري ترې تښتیدلي او بیا هم هغه په خپله اوښه -چې تیزه منډه نشي او نه د جنګ په چل ول کولی شي- سپور دی او د دښمن مخې ته یې ځغلوي او د خپلې پیژندګلوۍ چیغې وهي، ترڅو یې دښمن ښه وپیژني، په هغه دې همیشه، همیشه درود او سلام وي).

ابن بطال د مهلب نه داسې نقل کوي:(د امام لخوا په اوښ سپریدل پدې خاطر وي چې په جنګ کې ثابت قدم وي او څوک پرې دا ګمان ونکړي چې هغه تیښتې او دښمن ته شا اړولو ته ځان تیار کړی، پدې کې سیاست او حکمت دا دی چې د امیر د تابعدارو لپاره هم ثابت قدمي شي، او کله چې اتباع د خپل امام څخه عزم وګوري نو هغوی ورسره هم په دغه عزم ولاړ وي).

د ابن بطال پدې خبره کې دا فائده ده چې باید امیر په داسې سپرلۍ سپور نشي چې هغه د مجاهدینو او نور پوځ د سپرلیو څخه بهتره او تیزه وي، بلکې په منځني حالت باید عمل وشي، ترڅو د مجاهدینو زړونه ثابت پاتې شي، امیر د شهاتو نه لرې وي په ځانګړې توګه چې کله دغه سپرلۍ یا موټر د مجاهدینو د مال څخه وي.

درېیمه وقفه:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل ځان معرفي کول، پدې وینا سره(أنا النّبيُّ لا كذب.. أنا ابن عبد المطّلب)، زه پیغمبر یم دروواغ ندي، زه عبد المطلب ځوی یم، ځکه چې کله خبره سپینه شوه او د جګړې له امله د خلکو نفسونه بد حاله شول، تردې چې یو سړی به په خپل ورور ورتیرېده او هغه به یې د سختۍ او په تیزۍ سره د ماتې په خاطر نه پیژنده، په دغه سخت وخت کې ضرورت دا و، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل لښکر، عسکرو او هغه چاته وایي چې د هغه سره په زړونو کې محبت لري چې هغه په میدان کې موجود دی او تښتیدلی ندی، هغه نو بیا امنیات، عسکري احیتاطونه د ځمکې ولي او په ډاګه اعلان کوي، ځکه دغه د امنیاتو وخت ندی، وخت تقاضا کوي چې قرباني دې ورکړی شي او د جګړې په ډګر کې دې پښه ټینګه کړی شي.

لدې هم ډیره نا اشنا دا ده چې د جهاد بعضې امیران، چې کله خبره د ریښتیا شي، سختي راشي او دښمن په منطقه چاپه ووهي او دی وګوري چې ملګري یې شهیدانیږي، نو دی ولاړ شي چیرته پټ شي، د هیچاسره رابطه نه کوي، خپل نو او کیدیشی خپل شکل پدې دلیل بدل کړي چې احتیاط پکار دی او دغه راشد امیر باید خوندي وساتل شي، لیکن دغه نه پوهیږي چې ده خپل ځان او خپل ورونه ټول ضایع کړل.

که چیرته دی د خپلو ملګرو سره پاتې شوی وی، هغوی یې رایوځای کړي وی، د دښمن مقابله یې کړې وی، میړانه او ثبات یې ښودلی وی، نو پدې سره دی او د ده ملګري خلاص شوي وی، په ځای د دې چې خپل ځان او ملګري ضایع کړي.

څلورمه وقفه:

رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې وکړل لکه چې په صحیح مسلم کې

راغلي، هغه عباس ته وفرمايل: (أي عباسٌ ناد أصحاب السَّمُرَة،فقال عباسٌ: - وكان العباس صيِّتا- قال: فقلت بأعلىٰ صوتي: أين أصحابُ السَّمُرة قال فوالله لكأنّ عَطْفَتَهُمْ حين سمعوا صوتي، عَطْفَةَ البقر علىٰ أولادها فقالوا: يٰا لبيك يٰا لبيك)، ژباړه: اى عباسه کيکر ملګرو ته غږ وکړه- او عباس د لوړ غږ خاوند و- نو هغه په لوړ غږ چيغه کړه: د کيکر د ونې ملګري چيرته دي؟ راوي وايي: په الله قسم زما د اواز په اريديو داسې راوګرځيدل، لکه غوا چې خپل بچي ته راګرځي، هر يو ويل: يالبيک، يالبيک.

د ابن اسحاق په روايت کې دي: يو سړي به د عباس رضي الله عنه د اواز اوريدو وروسته خپل اوښ راستناوه او هغه به نه راستنيده، نو خپله زغره به يې ګذاره کړه، خپله توره به يې راوخيسته او د غږ په لور به روان شو.[سيرة ابن هشام].

د طبري په روايت کې دي، چې رسول الله صلى الله عليه عباس ته وفرمايل:(نادي يا معشر الأنصار، ويا معشر المهاجرين). فجعل ينادي الأنصار فخذاً فخذاً. ثمّ قال:(نادي بأصحاب سورة البقرة)، قال فجاء النّاس عُنُقاً واحدةً [التفسير]،ژباړه: غږ وکړه: اى د انصارو ټوليه، اى د مهاجرينو ټوليه، نو خلک ټولي ټولي راستانه شول، بيا يې ورته وفرمايل: د سورة البقرې خاوندانو ته غږ وکړه، نو خلک په يو ځل راستانه شول.

په صحيح مسلم کې دي: بيا يې غږ د بني الحارث بن خزرج په قبيله کې خاص کړ.

دلته يوه مهمه وقفه او رباني نبوي لويه فائده ده: کله چې خلکو ماتې وخوړه او صفونه سره بيل، بيل شول، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم څه وکړل؟! ځکه هغه وخت د رسول الله صلى الله عليه وسلم ترڅنګ يوازې دولس کسان، يا

په زیاترو روایتونو کې راغلي چې اتیا کسان پاتې شول، د مسلمانانو شاسواران، د جګړو میړني او سرخندویان مات شول، چې په هغې کې د جنګ تکړه سړي لکه سلمه بن الاکوع ، بلکې د الله تعالی غوره بندګان د بیعة الرضوان خاوندان هم مات شول او داسې نور، په دغه سخت موقف کې مشرتابه نا امیده نه شو، توره یې په ځمکه ګزار نه کړه او د جنګ د ساحې څخه ونه تښتیده، هغه صلی الله علیه وسلم له داسې عیب څخه پاک و، بلکې هغه د جنګ په میدان کلک ودریده، بیا یې خلکو ته چیغه وکړه، د مضبوط ایمان په خاوندانو، مخلصو مجاهدینو او د الله تعالی په خاصو بندګانو یې پیل وکړ، لکه د بیعة الرضوان او ونې لاندې بیعت کونکي، بیا یې د قرآن والاو ته غږ وکړ، په ځانګړې توګه د قرآن کریم د ملغرې والاو ته، نو د سورة البقرې په خاوندانو یې غږ وکړ، کله چې د هغه نه را چاپېر شول نو بیا یې د مومنانو په زړونو کې قبائلي غیرت را وپاروه، نو خلکو ته یې د قبیلو په نوم غږونه وکړل، د هغوی په خاصو نومونو، ځکه که چا ته خپل نفس د تیښتې خبره کړې وي، چې د شرم څخه ویریږي او د دې ټولو باوجود ورسره هغه ملګر و.

دلته بله یوه مهمه وقفه هم ده او هغه دا: اګر د تیښتې ګناه ډیره لویه او یو دومره لوی هلاکت دی چې کیدیشی تښتیدونکی توبه راګیره نکړي، لیکن د دې باوجود رسول الله صلی الله علیه وسلم چاته هم پیغور ونکړ، بلکې بالعکس د هغوی عزت یې وکړ او د توحید او جهاد نه وروسته یې د هغوی قبائل په درناوي یاد کړل، دلته فائده دا ده چې امیر باید تر ټولو لومړی د جهاد لومړیو ملګرو ته پناه یوسي، بیا نیکو قبائلو ته خو ډیر زیات دې ځان وساتي چې چاته پیغور ونکړي، په همدې توګه امیر ته پکار دي چې د ټولو هغو سره په رابطه کې شي چا چې جهاد پریښی؛ هغوی ته دې خپله سابقه او جهاد وریاد کړي، هغوی دې د خپلو ورونو صفونو ته راستانه کړي، ځکه هغه همداسې پریښودل، شیطان او د هغې ډلې ته پریښودل دي او د جهاد لپاره ضائعه ده چې هیڅ عقلمند یې نه قبلوي.

پنځمه وقفه:

د حنین په ورځ د تښتیدونکو حقیقت، په صحیح مسلم کې حدیث دی، چې ام سلیم یوه چاقو پیدا کړ او بیا یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله رسوله دا زمونږ نه چې وروسته کوم طُلقاء دي دوی ووژنم؟ ځکه دوی ستا نه تښتیدلي وو! نو هغه ورته وفرمایل:(یا أمّ سُلیم إنّ الله قد کفی وأحسن)، ژباړه: ای ام سلیم الله تعالی زمونږ کافي شو او ښیګړه یې راسره وکړه.

د بخاري رحمه الله په روایت کې دي: چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره لس زره لښکر او طُلقاء هم وو، چې تولو شا کړه او ماتې یې وخوړه، نووي رحمه الله د طلقاو په اړه وایي:» دوی د مکې هغه خلک وو چې د فتح په ورځ یې اسلام راوړی و، طلقاء ورته ځکه ویل کیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوی احسان وکړ او دوی یې خوشې کړل، د دوی په اسلام کې لږه کمزوري وه نو ام سلیم ګمان وکړ چې دوی چیرته منافقان نه وي، یا دا چې دوی د جنګ څخه په تیښته د مرګ مستحق دي«.

د مخکې تیرو واقعاتو څخه دغه خبره په ډاګه روښانه کیږي چې د حنین په ورځ تیښته په طلقاء کې پیل شوه، چې پدې سره د مسلمانانو صفونه مات شو او بیا بهادرو او زړورو هم د هغوی په پل قدم کیښود.

لیکن هغه پوښتنه چې په خاطر یې مونږ دغه وقفه وکړه، هغه دا چې آیا رسول الله-الله مه کړه- پدې فیصله کې په خطا و، چې د ځان سره یې طلقاء روان کړل، حنین ته یې ورسول او هغوی تازه مسلمانان شوي وو؟ د هغوی په اسلام کې کمزوري وه، هغوی تر اوسه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د توحید درسونه نه وو اخیستي؟

دغه حالت په دې روایت هم پیاوړی کیږي چې کله دوی حنین ته ووتل نو د

مشرکینو په یوه ونه تېر شول چې ذات انواط ورته ویل کېده، هلته به مشرکینو توري زوړندولې، نو دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه چې، ای د الله رسوله: زمونږ لپاره هم داسې د تورو زوړندولو ونه وګرځوه لکه د دوی لپاره چې ده، نو رسول الهل صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ((سبحان الله! هذا كما قال قوم موسى {إجعل لنا إلهاً كما لهم آلهة} [الأعراف ۱۳۸])) [رواه الترمذي عن أبي واقد الليثي]، ژباړه: سبحان الله! دا هغه څه دي چې بني اسرائیلو موسی علیه السلام ته ویلي و، چې زمونږ لپاره هم داسې معبود جوړ کړه لکه د دوی لپاره چې معبودی دی.

دغه خبره مې ځکه وکړه چې بعضې د مریضو زړونو خاوندانو په مونږ دا عیب ولګاوه چې دوی د اسلامي دولت د اعلان څخه وروسته په پوځ کې نوي خلک داخل کړل، چې بعضې په بعضو سیمو کې د ورونو د ماتې لامل هم وګرځیدل، لیکن مونږ کوم نوی کار ندی کړی، مونږ خو په خپل خوږ پیغمبر پورې اقتداء کړې، بلکې رسول الله صلی الله علیه وسلم خو د فتح مکې نه وروسته غنیمتونه تقسیمول نو طلقاؤ او مهاجرینو ته یې ورکړل او انصارو ته یې هیڅ ورنکړل، لکه چې په صحیح البخاري او نورو کې ثابت دي، اګر چې انصار د اسلامي لښکر زړی و، ابن قیم رحمه الله وایي: «پدې کې حکمت دا و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته دا ښودله چې الله تعالی د خپل نبي سره مرسته وکړه او دغه د ډیرو قبائلو اسلام ته په راتلو یا د قوم د جنګ په ختمیدو نه وه». [ابن حجر: فتح الباري]،

د دې هرڅه باوجود مونږ اسلامي امت ته زیری ورکوو، چې الحمد لله د اسلامي دولت د قیام نه وروسته چې کوم څوک امیر مقرر شوی هغوی کې یو هم وسله په ځمکه نده ایښې، بلکې هغوی تر نن ورځې پورې د جنګ اتلان او د جګړو شاسواران دي، هغوی د خپلو سابقه ورونو په څیر دی، کوم چې د دوی نه خیر ته مخکې شوی دي، والحمدلله رب العالمین.

د کامیابۍ پنځمه لاره: تیاری کول

الله تعالی فرمایي : ﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾ [الأنفال ٦٠] ژباړه : او تاسو د دوی لپاره تیاری وکړئ څومره چې ستاسو په توان پوره وي، د أضواء البیان والا وایي: «دغه یو کلک امر دی چې د توان سره سم هر څه تیار کړئ اګر که په ترقۍ انتهاء ته رسیدلې وي، نو دا په دنیاوي کارونو کې د پرمختګ او ترقۍ سره د چلیدلو په خاطر د په خپل قوت تیارولو باندي یو کلک امر دی».

او دا خبره ښکاره ده چې جهاد نن ورځ په هر مسلمان فرض عین دی او هر هغه وسیله چې واجب له هغه پرته نه پوره کیږي هغه هم واجب وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (ارموا بني إسماعیل فإنّ أباکم کان رامیا) [صحیح البخاري]، ژباړه: ای د اسماعیل بچو ویشتل کوئ یقینا ستاسو پلار هم ویشتونکی و. بل ځای فرمایي: (ألا إنّ القوّة الرّمي) [صحیح مسلم]، ژباړه: خبردار طاقت په ویشتلو کې دی.

صنعاني د دغه تیر حدیث په هکله ویلي دي: «د یاد حدیث څخه دا فائده مونږ ته ښکاره شوه چې په غشو باندې ویشتل کول طاقت دی، ځکه چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د کار ساز او سامان و، خو پدې زمانه کې بیا مشرکین په ټوپکونو ویشتل پکار دي» [سبل السلام].

خلاصه دا شوه چې جهاد فرض وي نو پر هغه د صلیبیانو او مرتدینو خلاف معرکې ته تیاری کول هم فرض او واجب دي.

چې مونږ له دغو واجباتو څخه په لاندې ډول یو څه ذکر کوو:

لومړی: کتې مټ هغه څه چې امام ابو جعفر طبري رحمه الله ددې آیت په

تفسیر کې بیان کړې: الله تعالی فرمايي: ﴿مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ﴾، طبري وايي: «د جنګي وسايلو نه هغه څه تيار کړئ چې ستاسو په توان کې وي؛ کوم چې د کفارو پر خلاف ستاسو قوت وي» [جامع البيان]. نو د وسلو جوړول تر ټولو لويه تياري ده چې جهاد پرې پياوړې کيږي او دا هغه څه دي چې نن سبا ورته د جنګ وسايلو صنعت ويل کيږي او دغه صنعت الله تعالی د خپل کتاب په ډيرو ځايونو کې بيان کړې ده او په بعضې ځايونو کې يې ډير په جوړوالی بيان کړی دی، الله تعالی فرمايي: ﴿وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّن بَأْسِكُمْ فَهَلْ أَنتُمْ شَاكِرُونَ﴾ [الأنبياء ۸۰]، ژباړه: او مونږ هغه ته ستاسو د ګټې لپاره د زغرو جوړول ښودلي وو تر څو پرې د خپل جنګ پر مهال ځان وژغورې، نو آيا تاسو شکر ايستونکي ياست؟.

امام طبري رحمه الله وايي: داود عليه السلام ته (لبوس) جوړول ښودل شوي وو، او عرب ټولو وسلو ته لبوس وايي، لکه زغره، توره، نيزه او داسې نور. او ابن کثير رحمه الله وايي: الله ورته د زغرو جوړول ښودلي وو.

الله تعالی د زغرو په صفت کې فرمايي: ﴿أَنِ اعْمَلْ سَابِغَاتٍ وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ﴾ [سبأ ۱۱]، ژباړه : له دې لارښوني سره چې زغرې جوړوه او د هغو کړۍ او ميخونه په سمه اندازه ورکړه، ﴿وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ﴾ شنقيطي په اضواء البيان کې وايي:»کله چې زغري جوړوې نو کړۍ او ميخونه يې په سمه اندازه لګوه«.

ابن کثير رحمه الله د قتادة رحمه الله نه روايت کوي: «پخوا به زغرې د وسپنو تختې وې، کله چې داود عليه السلام راغی نو د زنځيري کړيو په شکل يې جوړې کړې».

نو د زغرو د جوړولو په صنعت د الله تعالی دا پاملرنه وشوه چې د هغې د قيق تفاصيل يې ذکر کړل او پدې سره يې په خپلو بندګانو يې دغه احسان وکړ ؟

خو ډېره د خواشینۍ خبره ده چې نن سبا زمونږ ډېر مجاهدین د دښمن سره په جګړو کې زغرو ته هیڅ اهمیت نه ورکوي حالانکې په زغره کې ډېري فائدې دي، چې ترټولو مهم یې د دښمن د مرمیو او بمونو د پرچو څخه د مجاهد د قیمتي ځان ساتل دي.

دویم: مجاهد لدې خوندي ساتي چې د بدن په مرګوني ځاى ولګي او جهاد ترې پاتې شي یا داسې سخت ټپي شي چې د جنګ په ساحه کې پاتې شي او د دښمن سره د بندي کیدو ډېره خطره یې موجوده وي.

دریم : د دې په توسط سره یو مجاهد او بیا په ځانګړې توګه د یرغلونو او استشهادي بریدونو شازلمي دښمن ته ډېر نږدې ورتللې شي.

او تر ټولو وروستنۍ خبره دا ده چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ډېر زړور نه یو؛ ځکه هغه زغره او جنګي خولۍ لرله، لکه څرنګه چې ور سره توره هم وه، په صحیح البخاري کې د عائشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو او زغره یې د یو یهودي سره د دیرشو صاعونو وربشو په بدله کې ګانه وه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا خبره ثابته ده چې د أحد په ورځ د دوه زغرو تر مینځ را ښکاره شو، یا یې دوه زغرې اغوستې وې.[مسند احمد او سنن ابو داود]

په بخاري او مسلم کې د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د فتحې په ورځ راښکاره شو او پر سر یې مغفر و، مغفر د زغرې یو ډول دې چې صرف پر سر اغوستل کیږي، چې نن سبا ورته جنګي خولۍ ویل کیږي.

همدا ډول الله تعالی مونږ ته د اوسپنې معدنی ټوټو په اړه ښودنه کړې چې نن

سبا د وسلو په جوړلو کې لوی کردار ادا کوي، الله تعالی د ذوالقرنین په قیصه کې فرمايي: ﴿آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ حَتَّى إِذَا سَاوَى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انفُخُوا حَتَّى إِذَا جَعَلَهُ نَارًا قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا﴾ [الكهف ٩٦]، ژباړه: ماته اوسپنيزي تختې راوړئ، تر دې چې کله يې د دواړو غرونو تر مينځ کندو ډک کړ، نو خلکو ته يې وويل: اوس هغه ويلي شوي تامبه (ميس) راوړئ چې پدې يې وځثوم.

او دا خبره اوس په تحقيق کې ثابته شوې چې کله يوه اندازه تامبه (ميس) د وسپنې سره ګډ کړی شي نو د وسپنې سختي او مقاومت ورسره نور هم زياتيږي.

او دغه ډول الله نوح عليه السلام ته د کښتۍ جوړول ښودلي وو، فرمايي: ﴿وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا﴾ [هود ٣٧]، ژباړه: او زمونږ تر څارنې لاندې او زمونږ له ښوونې سره سم د يوې کښتۍ په جوړولو لاس پوري کړه.

طبري د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کوي: چې نوح عليه السلام ته د کښتۍ جوړول نه و زده خو الله تعالی ورته وحي وکړه چې داسې يې جوړه کړه لکه د مرغه سينه.

په همدې توګه نبي صلی الله عليه وسلم د خپل امت د هغو اتلو غازيانو صفت کړی چې په کښتيو کې به جنګ کوي لکه چې د بخاري او مسلم په روايت سره د ام حرام رضي الله عنها په حديث کې راغلي دي، نو آيا داسې څوک شته چې دغه کار ته متې را بډ وهي؟

الله تعالی فرمايي: ﴿فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ﴾ [النحل ٢٦]، ژباړه : الله تعالی د دوی د دسيسو کلا له بيخه ونړوله، او د هغې چت پر هغوی له پاسه راوغورځيده.

او څوک چې د چاودیدونکو موادو پوهه لري هغه پدې پوهیږي چې دغه آیت په یقیني توګه د متفجراتو بنیاد دی.

او دا خبره کافي ده چې د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم د هیڅ یو صنعت دومره ستاینه او ملاتړ ندی کړی لکه څومره یې چې د وسلو د صنت په حق کې کړی دی، نو فرمایي:(یدخل بالسّهم الواحد ثلاثة نفرٍ الجنّة: صانِعه المحتسب في صَنعته الخير، والرّامي به ومنبله) [رواه أصحاب السنن الأربعة]، ژباړه: په یوه غشي په درې کسان جنت ته ځي، جوړوونکی، پدې جوړولو د خیر اراده لرونکی او ویشتونکی، نو د هغه چا به څومره اجر وي چې یو توغندی جوړ کړي، یا الوتکه جوړه کړي یا یوه نوې چاودیدونکې ماده کشف کړي.

هر چې نشریاتي او د رسنیزه چارو تیاری دی:

نو د مجاهدینو جګړې د دښمن سره په دوه سنګرونو کې روانې دي، یو عسکري محور او سنګر دی چې مونږ وړاندي بیان کړ، دویم طرف د هغه شیطاني نشراتو مخه نیول دي چې د امت شکل یې بدل کړې، عقیده او بنسټ یې ور خراب کړې او د نفس او طبعیت ماتي یې را مخکي کړې، یقینا د نشراتو توغندي ډیر سخت او چاودیدونکي دي او دا د الوتکو د توغندو د لمبو نه امت او د امت سرو ته ډیر سخت خطر دی، نو له دغې وجې مجاهدینو ته پکار دي چې څرنګه یې په عسکري میدان کي د دښمن مخه نیولې دغسي باید د دویم میدان مخه هم ونیسي چې هغه د رسنیو میدان دې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «جهاد وکړئ په خپلو ژبو باندي». [مسند احمد] او بل ځای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: « یقینا مجاهد په لاس او په ژبه جهاد کوي، قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کي دس دا د ژبې جهاد داسي دی لکه چې تاسو یې په غشو ولئ» [مسند

احمد]، همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله زمانه کې د رسنیو هر ډول پروژې روانې ساتلې وې کوم چې به د دښمن زړه ته ډېر درد ورکوو او ورباندې به ډېر سخت و، چې هغه ته شعر وایې، امام ترمذي او نسائي د انس بن مالک نه روایت کړې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په عمرة القضاء کې مکې ته ننوتلو او عبدالله بن رواحة رضي الله عنه یې مخ ته روان و او شعر یې ویل :

خلّوا بنو الکفار عن سبیله
الیوم نضربکم علی تنزیله
ضرباً یزیل الهام عن مقیله
ویذهل الخلیل عن خلیله

ای د کافرانو بچو له مخه یې اخوا شئ* د ده په وحې به مو نن ورځ وهو * داسې وهل چې کوپړۍ والوځوي * او انډیوال د انډیوال څخه بېزاره کړي

نو پدغه وخت کې ورته عمر رضي الله عنه وویل: « ای د رواحه زویه ! د الله تعالی په حرم کې او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم مختته ته شعرونه وایې؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «ای عمره ! دغه شعرونه پر دې کافرانو د غشو د ګذار څخه هم سخت دي».

او لکه څرنګه چې د خالد بن الولید رضي الله عنه په اسلام قبلولو خوښ شوې و چې هغه یو لوی جنګ سالار وو ، دغسې د شاعرانو په لوی او مشر شاعر باندې هم خوښ شوې و، په مسند احمد کې روایت دی: چې کله د انصارو یوه لویه ډله په عقبه کې د بیعت لپاره راغله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم عباس ته وویل چې دغه دوه تنه پیژنې؟ هغه ورته وویل چې آو دا یو د خپل قوم مشر براء بن معرور دی او دا بل کعب بن مالک دی. کعب رضي الله عنه وایي: زما به د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره کله هم هېره نشي چې ویې ویل: هغه شاعر ؟ عباس ورته ووایل چې آو[رواه احمد].

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا هم نقل دي چې هغه به خپل شاعران پوره او په سمه توګه تیارول؛ حسان بن ثابت رضي الله عنه ته به یې فرمایل:« ابو بکر ته ورشه چې د دې قوم بدی درته بیان کړي، ځکه په نسبونو پوه دی» [بیهقي باب الأنساب].

په صحیح البخاري کې د عائشې رضي الله عنها روایت دی چې: حسان بن ثابت رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د مشرکانو د بدیو بیانولو اجازه وغوښتله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: « زما د نسب به څه چل وشي؟» هغه ورته وویل: زه به تا د دوی نه داسې را وباسم لکه څرنګه چې د اوړو نه ویښته راویستلی شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به ښه شعرونو ډیر خوند ورکوو، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: « ډیره رینښتونې خبره چې شاعر کړې ده؛ هغه د لبید شاعر خبره ده چې ویلي یې دي: خبردار د الله تعالی نه پرته هر څه باطل دي، او امیة بن ابي السلط نږدې و چې مسلمان شي». [صحیح بخاري].

همدا ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې لپاره یو خاص خطیب نیولی و چې د اسلام او مسلمانانو څخه دفاع وکړي، ثابت بن قیس بن شماس چې د جنت زیری هم ورکړل شوی و، کله چې بني تمیم راغلل، خپل شاعر او خطیب دواړه یې راوستل، نو رسول الله ثابت بن قیس ته وفرمایل: «ورپاڅیږه او جواب ورکړه» نو هغه ورته جواب ورکړ، پدغه وخت کې اقرع بن حابس ودرید او ویې ویل: قسم په الله محمد ته کارونه په خپله برابریږي، زه نه پوهیږم چې دا څه چل دی، زمونږ خطیب خبرې وکړې خو د دوی خطیب تر هغه ښه خبرې کونکی دی او زمونږ شاعر خبرې وکړې خو د دوی شاعر ډیر تکړه شاعر او ښه خبرې کونکی دی، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته را نږدې شو او ورته یې وویل:

زه دا ګواهي کوم چې د الله څخه پرته بل حقدار د عبادت نشته او ته د هغه رالیږل شوې رسول یې.[معرفة الصحابه د ابو نعیم]

مونږ کولی شو چې د اسلامي رسنیو یو شمیر مهم هدفونه او مقصدونه په یو څو مهمو نقطو کې تاسو ته خلاصه کړو :

١. پدې سره د مسلمانانو د ناموسونو او عقیدو ساتل کیږي، الله تعالی د شاعرانو څخه بعضې ځانګړې کوي: ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانتَصَرُوا مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا﴾ ژباړه : مګر هغه کسان چې مومنان دي، نیک عملونه کوي، الله ډیر یادوي او مرسته یې کړې وروسته له هغې چې ظلم ورسره شوې.

ابن عباس رضي الله عنه د آیت په تفسیر کې وایي: یعنې د هغو کافرانو رد کوي چې د مسلمانانو بد به یې بیانول.[رواه الطبري]

رسول الله صلی الله علیه وسلم حسان رضي الله عنه ته وفرمایل: (ای حسانّه! د رسول الله له طرفه ورته ته ځواب ورکړه، ای الله په روح القدس یې مرسته وکړه).[متفق علیه] او ابن عساکر په تاریخ دمشق کې ذکر کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « څوک به د مسلمانانو د ناموسونو دفاع وکړي ؟» نو کعب وویل زه یې کوم، ابن رواحه وویل زه یې کوم او حسان وویل زه یې کوم ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم حسان ته وفرمایل: « ته یې بدي بیان کړه او روح القدس به درسره مرسته وکړي».. رسول الله صلی الله علیه فرمایلي: «یقینا الله تعالی حسان په روح القدس پیاوړی کوي، تر څو یې چې د الله د رسول څخه دفاع کوله» [سنن ترمذي]

۲. د امت د ځوانانو او بیا په ځانګړې توګه د مجاهدینو مورال پورته کیږي، د سلمه بن الاکوع رضي الله عنه څخه روایت دې، وایي: «مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خیبر ته ووتلو، د شپې مو مزل وکړ، نو یو نفر عامر بن اکوع ته وویل، آیا مونږ ته د خپلو شعرونو څخه یوه څه نه را اوروې؟ -عامر ډیر تکړه شاعر و- نو شروع شو او خپل شعرونه یې زمزمه کول». [رواه البخاري ومسلم]

۳. د کافرانو او مرتدینو درواغ په ډاګه کول، او امت ته د دوی د چټلتیا او کمزوري راښکاره کول، او د دوی دا غوړول شوې پلو د مسلمانانو څخه غونډول او د دوی په زړونو کې ویره اچول، ابن عبدالبر په الاستیعاب کې د ابن سیرین څخه روایت کوي: «د مسلمانانو شاعران حسان بن ثابت ، عبدالله بن رواحة ، او کعب بن مالک وو، نو کعب به کافران له جګړې څخه ویرول، ابن رواحه به په کفر شرمول، او حسان به یې د قومونو بې عزتي کوله» ابن سیرین وایي: « د دوس قبیلې ډیرو خلکو د کعب بن مالک د دې وینا له ویرې اسلام راوړی و:

قضينا من تهامة كل وتر*** وخيبر ثم أغمدنا السيوفا

نخيرها ولو نطقت فقالت*** قواطعهن: دوسا أو ثقيفا

له تهامه سیمې څخه مو هر ضرورت پوره کړو * او له خیبر څخه هم ، بیا مو توري په تیکو کې کیښودې* مونږ اختیار ورکوو خوکه خبري یې کړلی شوی نو ویلي به یې و * چې بیا پریکونکی د دوس یا ثقیف قبیلو دي.

نو دوس قبیلې والا وویل چې ځئ چې ورشو د ځان لپاره څه پناه ونیسو، داسې نه چې پر مونږ هغه څه رانشي کوم چې پر ثقیف راغلي دي.

٤. داسې ریښتوني انځورونه را نقل کول چې د ملت د اتلانو او دښمنانو په مینځ کې د روانو جګړو حقیقت ښکاره شي او بل د هغو حقیقتونو

ثابتولو لپاره چې د اسلام شازلمو ننګونه کړي وي له دې ویرې څخه چې خراب نشي یا ئې د وینو تاجران غلا نکړي.

د کامیابۍ شپږمه لاره: الله تعالی ته سرټیټول او عاجزي کول

الله تعالی فرمایي : ﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ﴾ [التوبة ۲۵]، ژباړه : الله تعالی له دې څخه وړاندې په ډیرو ځایونو کې ستاسو سره مرسته کړېده، او د حنین په ورځ هم، کله چې تاسو په خپل ډیر والي وغولیدئ، خو هغه ستاسو هیڅ په کار رانغلو او دغه ځمکه د پراخ والي سره پر تاسو را تنګه شوه، بیا تاسو شا واړوله او وتښتېدئ.

ابن کثیر وايي: ابن جریج د مجاهد نه روایت کوي هغه وايي:» دا د سورت براءت اولنۍ هغه آیت دی چې الله تعالی پر مسلمانانو خپل فضل یاد کړی، چې الله تعالی د دوی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مختلفو ځایونو او جګړو کې کومه ښیګړه او مرسته کړې وه نو دا هر څه د الله په خوښه او د هغه د تقدیر سره سم وو، نه د دوی په شمیر او نه د دوی په تیارۍ وو. بیا الله تعالی دوی ته یې دا خبرداری هم ورکړو: چې مرسته او کومک د الله له خوا دی اګر که ډله کوچنۍ یا لویه وي ، ځکه د حنین په ورځ دوی خپل شمیر ته ډیر خوښ وو خو سره د دی هیڅ فائده یې ورته ونکړله، او بیرته په شا شول او وتښتیدل، مګر لږ خلک د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پاتي شول«.

ابن بطال د عائشې رضي الله عنها څخه نقل کوي، هغه وايي:» تاسو د ډیر غوره عمل څخه بې غوره یاست، چې هغه عاجزي ده« .

طبري رحمه الله وايي: «عاجزي د هغو ازموینو څخه ده چې الله یې پر مومنو بندګانو راولي، ترڅو الله تعالی وګوري چې دوی د الله تعالی تابعداري کوي که نا، بل پدې وجه یې په بندګانو مقرر کړې چې پدغه مصیبت کې الله تعالی د بندګانو د خیر اراده لري؛ هم پدې عاجله دنیا کې او هم په آخرت کې، له دغې تواضع یوه

بیلګه دا وه چې کله د مکې د فتحې په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی نو خلکو ورته اشارې کولې؛ چې هغه دا دی، هغه دا دی، نو هغه خپل سر ټیټ کړ او دایې ویل: الله تعالی لوړ او لوی دی، د طارق بن شهاب نه روایت دی چې کله عمر رضي الله عنه شام ته راغی نو مخ ته یې یو د اوبو خوړګی راغلو نو عمر رضي الله عنه د اوښ نه را ښکته شو او خپلې څپلی یې په لاس کې ونیولې نو تر خوړ واوښت، ابو عبیده ورته وویل: تا نن د دې خلکو په وړاندې دا څنګه کار وکړ؟، نو عمر ورته یو سوک ورکړ او ورته یې وویل: کاش دا خبره تا نه وی کړې ستا د شان سره مناسب نده، یقینا تاسو بې عزته او سپک خلک وی، الله درته د دې دین په وجه عزت درکړ نو که عزت مو په بل څه کې ولټولو؛ الله تعالی به مو ذلیله کړي. [د امام طبري خبره ختمه شوه، شرح صحیح البخاري]

د کامیابۍ اوومه لاره: د الله تعالی ذکر کول

الله تعالی فرمايي : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُواْ وَاذْكُرُواْ اللّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلَحُونَ﴾ [الأنفال ٤٥] ژباړه : اي مومنانو ! کله چې تاسو د کومې ډلې سره مخامخ شئ نو کلک ودریږئ او الله ډیر ډیر یادوئ ترڅو تاسو ته برى در په برخه شي.

طبري وايي : (وَاذْكُرُواْ اللّهَ كَثِيرًا) يعني پر دغو کافرانو د الله څخه مرسته او کامیابي وغواړئ، او خپل زړونه او ژبې په دغه یادولو تازه کړئ تر څو تاسو کامیاب شئ ، د قتادة څخه نقل دی چې: الله تعالی خپل ذکر پداسي وخت کې پر تاسو لازم کړی چې تاسو د تورو په وهلو کې ډیر مشغول یاست.

د امام قرطبي رحمه الله د دې آیت په هکله وايي: په دغه ذکر کې د علماؤ درى خبرې دي:

لومړی: الله تعالی په هغه وخت کې یادوئ چې زړونه مو ویریدلي وي، ځکه چې ذکر په کلک والي کې ډیره مرسته کوي.

دوهم:خپل زړونه په ذکر پیاوړي کړئ او په ژبه د الله تعالی یادونه کوئ: ځکه د جنګ په وخت کې زړونه نه ودریږي او ژبه هم خوځیږي، نو الله هم پدغه وخت کې په ذکر امر وکړ تر څو زړونو ته سکون ورسیږي، ژبې د الله په ذکر وخوځیږي او هغه وینا وکړي چې د طالوت ملګرو کړې وه: ﴿رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ [البقرة ٢٥٠]. ژباړه : اى الله پر مونږ صبر راواړوه، زمونږ پښې کلکې کړه او پر کافرانو راته برى راکړه.

دغه حالت یوازې هغه مهال رامنځته کیږي چې د الله تعالی معرفت په زړه کې

ډير قوي وي او عقل پوره روښانه وي او دغې ته په خلکو کې سپيڅلی شجاعت ويلی شي.

دريم: د الله تعالی هغه ژمنې په ياد کړئ چې له تاسو سره يې کړې دي، د کومې پر اساس چې يې ستاسو څخه نفسونه اخيستي او ثواب يې درته بيان کړی.

زه وايم چې دا درې واړه وجوهات احتمال لري، نو بايد په ژبه ذکر وشي، په زړه کې د جرأت احساس وشي او هم هغه څخه را ياد شي چې الله يې ژمنه کړې ده، مرسته په دنيا کې او جنت په آخرت کې، الله تعالی موسی او هارون عليهما السلام ته فرمايي: ﴿وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي﴾ [طه ٤٢] ژباړه : او زما په ياد کې سستي ونکړئ .

ابن کثير وايي: ددی آيت مطلب دادی چې دوی د فرعون په مخکې د الله تعالی د ذکر څخه سستي ونکړي، ځکه چې دا ذکر به د فرعون خلاف د دوی سره مرسته کوي، د دوی قوت او ملا تړ به او خبره به يې غالبه وي، لکه څنګه چې په حديث کې دي: « يقينا زما بنده چې زما پوره بنده وي هغه دی چې د دښمن سره د مخامخ کيدو پر وخت کې ما يادوي» .[رواه الترمذي عن عمارة بن زعكرة]

د كاميابۍ اتمه لاره: دعاء

الله تعالی فرمايي : ﴿قُلْ مَا يَعْبَأُ بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَاؤُكُمْ﴾ [الفرقان ٧٧]

ژباړه : ورته ووايه چې زما رب تاسو ته هيڅ پروا نلري كه ستاسو دعاء نه وی.

او بل ځای فرمايي : ﴿فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينْ﴾ [غافر ٦٥]

ژباړه : تاسو همغه د خپل دين په خالص ګرزولو سره وبولئ .

او بيا فرمايي: ﴿وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَتَ اللّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ﴾ [الأعراف ٥٦]

ژباړه : او همغه الله د ويري او هيلي سره راوبولئ ، يقينا د الله رحمت نيكانو ته نږدې دی .

بل ځای فرمايي : ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ [غافر ٦٠]

ژباړه : ستاسو رب وايي ما راوبلئ؛ زه به ستاسو دعاوې قبولې كړم، كوم كسان چې په غرور كولو سره زما له عبادت څخه مخ اړوي، هغوی به خوار او ذليله دوزخ ته ننوځي.

او بيا فرمايي : ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي وَلْيُؤْمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾ [البقرة ١٨٦].

ژباړه: که زما بندګان ستا نه زما په اړه پوښتنه وکړي نو ته ورته ووایه چې زه ورته نږدې یم، زه د هغوی بلنه اورم او ځواب ورکوم ورته، نو هغوی ته پکار دي چې زما خبره ومني او پر ما ایمان راوړي، کیدایشي چې هدایت ومومي.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: (دعا عبادت دی) [ابن ماجه ، ابو داود ، ترمذي ، نسائي د نعمان بن بشير څخه روايت کړی]

او بل ځی فرمايي: (الله ته تر ټولو عزتمند شی دعا ده) [حاکم عن ابي هريره]، بيا فرمايي: (که څوک د الله تعالی نه دعا نه غواړي الله ورته غصه کیږي) [ترمذي عن ابي هريره].

امام ابن تيميه رحمه الله وايي: «کاميابي او رزق دواړه په يو څو اسبابو ميلاويږي، چې تر ټولو لوی يي دعا ده، کله چې الله تعالی د بدر په ورځ له وړاندي رسول الله ته صلی الله علیه وسلم خبرداری ورکړی و چې تاسو ته به د الله تعالی نصرت در رسيږي او دښمن ته شکست، د دی وجه هغه دعا وه چې رسول الله کړې وه «. [مجموع الفتاوی]

نو دغه رسول الله صلی الله علیه وسلم و چې د دښمن ډير والی او طاقت او د خپل ملګرو لږوالی او کمزوتيا ته يې نه کتل او د هغه ذات څخه يې مرسته غوښتله کوم چې مرسته او کاميابي يواځې د هغه په لاس کې ده، ﴿وَمَا النَّصْرُ إِلاَّ مِنْ عِندِ اللّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ﴾ [آل عمران ١٢٦].

ژباړه : او نده مرسته مګر د هغه الله تعالی له طرفه چې زوروور او حکمت والا دی.

په صحيح مسلم کې د عمر الفاروق رضي الله عنه روايت دی وايي: «کله چې

د بدر په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د مشرکانو زر نفره ولیدل او خپل ملګرو ته یې وکتل چې درې سوه نهه نفرو ته وو، نو مخ یې د قبلې په لور کړ او لاسونه یې پورته کړل او ویې ویل: (ای الله کومه وعده چې دي راسره کړې وه هغه راسره پوره کړه، کومه وعده چې دي راسره کړې وه اوس یې راوله، ای الله که دغه ډلګۍ هم ختمه شوه نو بیا په ځمکه کې ستا عبادت څوک ونکړي) نو همدغسې یې دعا غوښتله تر دې چې څادر یې له اوږو لاندي وغورزید او مشرکانو ته یې خبرې کولې، (ای الله چې کتاب دې رالیږلی، حساب ژر اخیستونکیه، یا الله دا ډلې ماتې کړه، ای الله شکست ورکړه او ویې لړزوه) [متفق علیه] .

نو اې د الله دوسته ته پوه شه چې ته په داسي ځای کې یې چې هلته دعا قبلیږي، د سهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه څخه روایت دی فرمایي: دوه وختونه داسې دي چې د اسمان دروازې ورته خلاصې وي او ډیر کم دعا کونکی به وي چې دعا یې رد شي، یو کله چې د لمانځه لپاره اذان شروع شي دوهم د جګړې صف. [رواه مالک في الموطاء]

نو ای مجاهده د دغو وختونو خاص خارنه کوه: یو د جمعې د ورځې وخت ، بل د اذان وخت ، بل دشپې په اخیرنۍ دریمه برخه کې، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: زمونږ رب دشپې په اخیرنۍ دریمه برخه کې دځمکې لومړي اسمان ته هر شپه راښکته کیږي، او وایي چې: (څوک شته چې زما نه دعا وغواړي او زه یې ورته پوره کړم ؟ څوک شته چې زما څخه څه وغواړي او زه یې ورته ورکړم ؟ څوک شته چې زما نه بښنه وغواړي او زه یې وبښم ؟) [رواه البخاري ومسلم] او په بل روایت کې راځي چې: (څوک شته چې زما نه رزق وغواړي او زه یې ورته ورکړم ؟ ، څوک شته چې خپل تکلیف ماته بیان کړي او زه یې ترینه لري کړم ؟).

زه د الله تعالی نه دا غواړم چې مونږ د دعاء د قبلیدو څخه محروم نکړي، پداسي حال کې چې نږدې او لرې، ټوله دنیا زمونږ سره جنګ ته را ټوله شوې.

زه تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیرې درکوم چې معاذ ته یې ویلي وو: (ځان د مظلوم د ښېرو نه وژغوره، ځکه د هغه او د الله تعالی تر مینځ هیڅ پرده نشته). او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حال ستاسو وړاندې دی، چې درواغ وربانديې ویل شوي وو او بیا یې ښېره وکړه، نو ته وګوره چې الله تعالی یې څنګه دعا قبوله کړه !؟

الله فرمایي: ﴿كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ * فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِرْ* فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاء بِمَاء مُّنْهَمِرٍ* وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاء عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ* وَحَمَلْنَاهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ﴾ [القمر ۹-۱۳]، ژباړه: له دوی څخه مخکې د نوح قوم هغه ته د درواغو نسبت کړی و، ویل به یې چې دا خو لیونی دی منع کړیشوی، نو هغه خپل رب ته غږ کړ او ویې ویل چې زه نور مغلوب شوم ته ترینه غچ واخله، نو مونږ په را توی شویو اوربښت د اسمان دروازې پرانستې او ځمکه مو څیرې کړه او په چینو مو بدله کړه او دا ټولې اوبه د هغه کار لپاره یو ځای شوې چې په تقدیر کې لیکلب و او نوح مو د پلنو تختو او پېړو میخونو والا کښتۍ کې سپور کړو.

ته پوه شه ای مجاهده ! چې د الهي مرستې د ترلاسه کولو لپاره وجه زمونږ په صفونو کې هغه کمزوري خلک او مظلوم خلک هم دي چې زمونږ لپاره دعا کوي، د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل دی: ابو سفیان وویل: قیصر (هرقل) ماته وویل: ما ستا نه پوښتنه وکړه چې د دی پیغمبر ملګري د لوړو مرتبو والا خلک دي که کمزوري او خواران؟ نو ستا دا ځواب و چې کمزوري خلک یې ملګري دي او همدغه د پیغمبرانو ملګري وي)، او رسول الله صلی الله علیه وسلم سعد ته وویل: (ستاسو سره مرسته او کامیابي د کمزورو او خوارانو له امله کیږي) ، نو پدی حدیث کې دا خبره ډیره واضحه شوه چې د کمزورو مجاهدینو، ښځو، ماشومانو، او سپین ږیرو سره ډیر خیال ساتل پکار دي ځکه چې هغوی تر عامو خلکو الله تعالی ته په دعا کې ډیر مخلصان وي.

او په اخیره کي درته د الله تعالی خبره دریادوم: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اصْبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [آل عمران ٢٠٠]، ژباړه : ای مومنانو ! له زغم څخه کار واخلئ، د باطل پرستانو په وړاندي میړانه واښایست، د حق د خدمت لپاره ملا تینګه وتړئ، او د الله تعالی څخه وویریږئ ، هیله ده چې بری به وموموئ .

او د الله تعالی دا قول: ﴿وَعَلَى اللّهِ فَتَوَكَّلُواْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ [المائدة ٢٣]، ژباړه : پر الله باندې توکل وکړئ که تاسو پوره مومنان یاست. او د الله تعالی دا قول: ﴿إِنَّ اللّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَواْ وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ﴾ [النحل ١٢٨] ژباړه : يقينا الله د هغه چا سره مرسته کوي چې د الله نه ویریږي او هغه کسان چې نیک عملونه کوي . او د الله تعالی دا قول: ﴿وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ [الحج ٤٠]، او ژر ده چې الله به د هغو خلکو مرسته وکړي څوک چې دالله تعالی (د دین) مرسته کوي ، يقينا الله تعالی ډیر طاقتور او زورو دی.

او د الله تعالی دا قول: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُواْ وَاذْكُرُواْ اللّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلَحُونَ﴾ [الأنفال ٤٥]، ژباړه : ای مؤمنانو! کله چې د کومې ډلې سره مخامخ شوئ نو کلک ودریږئ او الله ډیر یادوئ ، ترڅو کامیاب شئ.

نو دغه د کامیابۍ او الهي مرستې یو څو لارې وې، د ژامو په غاښونو وربانديې خوله ولګوئ .....او الله تعالی په خپلو کارونو قدرت لرونکی دی، خو ډیر خلک نا پوهان دي.

ستاسو ورور : أبو حمزة المهاجر

همت كتابتون